# ‘Concepts, Trends and Movements in Pashto Literature’ A Critical and Explanatory Study.

# 'تصورات، رجحانات او تحريکونه په پښتوادب کښې' يوه تنقيدي اوتشريحي مطالعه

Mr. Said ul Amin Ahsan Kheshgi*

**Abstract:**

The shortest documented literary history of Pashto literature has witnessed numerous literary movements, and absorbed new concepts, emerging across the globe; during the course of time. In contrast, it gave birth to some indigenous political, apolitical and literary movements that have everlasting impacts on the prevailing literary discourses, and academic discussions. To put it honestly, the area has very inadequately been focused upon by literary critics and historiographers for portraying the real picture in a broader spectrum. Prior to numerous other previous comprehensive studies, and Dr Naseeb Ullah Seemab’s under discussion precise and most recent work, late Dr Raj Wali Shah Khattak had carried out his very extensive research work on the topic; i.e. ‘Literary Movements of Pashto Literature’. An attempt has been made in this paper to trace out how the former has opened up new horizons, what has been intermingled and mixed up, how the latter had touched upon some new debates, and what had been missed up. Besides of the short comparative analysis of both works, Dr Seemab’s work has been focused specifically, and some relevant points have been elucidated, and criticized a bit more. A short commentary has been written down upon the concepts, literary trends and movements in Pashto literature.

**Key Words**: Concepts, literary trends, Movements, Pashto literature, literary history.

دشاعراومحقق پروفيسر ډاکټرنصيب الله سيماب تحقيقي کتاب 'تصورات ، رجحانات ، او تحريکونه پښتو ادب کښې'1(الف)،دموضوعاتو په اعتباردپښتوادب دتاريخ ، تصوراتو ، رجحاناتو اوتحريکونو متعلق په شلو مختلفو موضوعاتولنډ اواوږده فني او

* Civil Servant Government of Pakistan

علمي بحثونه کوي .دوي د 'تصور ،نظريه،تيوري،تيوري او نظريه،رجحان و تحريك' بېل بېل تعريفونه کوي، خپلو کښې ئې فني تضادات،تقابل اوترادفات مخې ته راؤړي. او بيا 'دپښتو ژبې تاريخي شاليد' ،روښاني تحريك،زرين دور ،رحمان بابا ،سبك او مکتب، عبدالحميد مومند اوسبك هندي،توره دوره ياګونګه دوره،نوې (جديده) دوره،خدائي خدمتګار تحريك ، افغانستان،سهېلي پښتونخوا ،ترقي پسند تحريك،روماني رجحانات، د شلمې پېړۍ اخري نيمائي،اويويشتمه پېړۍ'دخپل تحقيق اوبحث موضوعات جوړوي. پښتو ادب کښې دتصوراتو ،رجحاناتو اوتحريکونودې لنډه ادبي جائزه اوتاريخ کښې د موضوعاتو دتشريح دوران کښې دمحقق دلائل، فکري مواد ،اواجمال اوتفصيل لوستونکيو ته ددوي دموقف سره د کُلي اتفاق او جزوي اختلاف موقعې په لاس ورکوي.
خپل وړومبي بحث 'تصور'کښې دوي د 'کشاف تنقيدي اصطلاحات' په حواله د 'تاريخ فکرِ يونان' دسقراط،افلاطون او هيراقليتس ( منقول اردو)عبارت نقل کؤلو کښې دااخري جمله نه راؤړي چې '..*افلاطون نے تصورات کو مابعدالطبيعاتی جوہر عطا کیا اور قرار دیا کہ امثال ہی اصل حقیقت ہیں*'1(ب)
ترجمه:افلاطون تصوراتو ته مابعدالطبيعاتي جوهر وروبخښل او دائې وګڼله چې هم امثال اصل حقيقت دے
. دتصور دابحث دوي 'خپلو خبرو 'کښې دخدا ے بخښلي ډاکټر راج ولي شاه خټک د'تحريك 'په معنی'کښې اختلاف څرګندؤلو سره کوي او په دغه اساس دوي 'تصور او رجحان د تحريك بنيادي توکي ګڼي'.او د موضوع په نفسياتي اړخ هم جامع بحث کوي .
ورپسې بل بحث 'نظريه'کښې دائيډيالوجي لفظ د فرانسيسۍ ژبې نه ماخوذ تصور کوي اومفهوم ئې 'اندازِفکر او تصورِ حيات'2 ګڼي. شايد اندازِ فکر سره سمون وخوري خو تصورِ حيات خو په مشرقي افکارو کښې ښېخي ښېل څيزښکاري.مذهب،سياسي نظام،او جغرافيائي حدود دغه تعريف ، بلکې زيات ترتعريفونه ،غېر مستقل ساتي .دې باره کښې دوي ليکي چې' نظريه ثابت شی نه وي بلکې په ذهنونو کښې پراته خيالات اورجحانات وي چې په عملي توګه ثابتېدوته اړتيالري'3.خوسوال دادے چې کله دغه نظريه عملي او نافذه شي نو آيا بيا به ئې هم دغه تعريف کامل شکل کښې وي؟.دغه اصطلاحات داسې دي چې د وخت تېرېدو اوحالاتو بدلېدو سره ئې تعريفونه هم د تغير سره مخ کېږي.اودلته دمترادف

انګريزي اصطلاحات نه لرلو په وجه لوستونکي دې ابهام سره هم مخ کوي چې دغه اصطلاحات به پښتو ته خالص داردو له لارې ترجمه شوي راغلي وي او که نه، اردو ته به هم نېغ په نېغه له انګرېزۍ ترجمه شوي وي؟نو دصحيح اوکامل فني تعريف او توضيح د تعين باره کښې يوه نيمګړتيا غوندې لري .ځکه چې د کشاف تنقيدي اصطلاحات مرتب حفيظ صديقي هم ائيډيلزم (Idealism) ، مثاليت (Idealism)،نظريه اعيان،نظريه امثال او اعيان(Ideas) مماثل او مترادف ګڼي خو مشرقي ژبو کښې مروج اصطلاحات ورته بدل دي.

د پورته ذکر'ائيډيالوجي' باره کښې د ډکشنري اف فلاسفي مؤلف سائمن بلېك برن ليکي:

'Any wide-ranging system of beliefs, ways of thought, and categories that provides the foundation of programs of political and social action: an ideology is a conceptual scheme with a practical application4'.

ترجمه:د(مختلفو) درجو،دسوچ د طريقو اود باور لرلو يو وسيع نظام چې د سياسي او سماجي عمل د پاره د بنيادمواد راپېدا کوي،يوه نظريه/ائيډيالوجي يوه تصوراتي منصوبه وي چې يو عملي نفاذ لري.

بل مختصر مضمون د' تيوري'5ترعنوانه شروع کوي او په 'ادبي تيوري' ئې سر ته رسوي.دلته هم دوي دتيوري هم هغه مروج تعريف کوي کوم چې اردو ادب کښې له مخکښې رواج موندلے ښکاري . خوبيا ئې په خصوصي توګه دخپلې موضوع سره نورهم متعلق کوي چې 'ادبي تيوري' ورته وائي.دابحثونه دموضوع له رويه پښتوادب کښې عام نه دي اوډاکټر سيماب ورته ښې اشارې کړې دي خوډېر اجمال او اختصار ئې دادب لوستونکيودپاره اشکال پېداکوي.ځکه تفهيم ئې ډېر پرانستے بحث غواړي.زيات اجمال ئې د مبتديانو دپاره دافهام اوابلاغ مسئلې مخې ته راوړي.

د'تيوري' ضمن کښې دوي د ډاکټر لال پاچا ازمون د تحقيق نتيجه شريکوي چې '....په ساده ډول ادبي تيوري کښې د ټولنپوهني دعلمي قوانينو له مخې دادب اوټولنې ترمنځ د شته اړيکو.ادبياتو د پېدائښت عواملو،د ادبي مکتبونو اوسبکونو،په ادبياتو کښې د شکل ، مضمون اوبېلابېلو ژانرونو په هکله څېړنه کېږي.'6

خو د'تيوري' په باب داکسفورډ ډکشنري اف ليټريري ټَرمز مؤلف کرِس بالډِك ليکي:

'A shorthand term used since the 1970s in this capitalized form to refer to a miscellaneous body of intellectual approaches that had increasingly become

interlinked and mutually reinforcing their repudiation of humanist(and specifically 'liberal-humanist) tradition in literary study ,history, aesthetics, and philosophy…'7

ترجمه:یوه لنډه اصطلاح چې له نولس سوه اویایم کال (خواوشا) کښې په استعمال کښې راغله.(دا)هغه مختلفو علمي خیالونو ته شمول لري چې تړېږه حده خپلو کښې په یوبل انحصارلري او یو تربله سردوباره دیوانسان پرست/هیومنسټ (او په خاصه توګه دازاد خیال هیومنسټو دپاره) دادبي مطالعې،تاریخ،جمالیاتو او فلسفې د انکار/رد په ضمن کښې .

دوي هم دې بحث کښې وړاندې لیکي:

'Such a broadly applied and unspecified term necessarily has its problems. 'Theory' is not the same thing as literary theory or even cultural theory, because it extends into realm of psychology, philosophy, linguistics, and history. It cannot amount to a theory 'of anything in particular, because it is many theories of almost everything, several of these being incompatible with one another'. (الف)8

ترجمه:یوه داسې خوره وره او مبهمه اصطلاح په ضروري توګه خپلې مسئلې لري.تیوري، دادبي تیوري یا ثقافتي تیوري په شان څیز(اصطلاح) نه ده،ځکه داد نفسیات،فلسفې،لسانیاتو اوتاریخ دائرې ته هم وسعت لري،دادیوخاص (حده پورې)د یوخاص څیز نظریه نه شي ثابتېدے ځکه داقریباً هریوڅیز نظریه ده چې یوڅو د هغونه یو بل سره ببخي یوشان والے او مماثلت نه لري.

دغه بحث د نور طوالت او وضاحت غوښتنه کوي اوکه خپل ادب،ورسره تړلي سماجي قدرونه،په ادب کښې د هغو ظهور اواظهار او عوامل هم نظر کښې وساتلے شي نوهله به ئې کلي انطباق واضح اوممکن وي.

د تحریك په تعریف کښې ئې دډاکټر انورسدید 'اردو اد ب کی تحریکیں' په حواله بنه هر اړخیز کلام کوي اوپه دغه طریقه د پښتو ادب د تحریکونو جاج اخستو دپاره لاره سموي- دې ضمن کښې دوي ددغه پورته کتاب د'حرکي' ترعنوانه بحث د'تحریك' سره تړي خو د ورکړي شوي عبارت اخري برخه نه راؤړي چې مونږ د'حرکي' په باب یو حتمي فکر قائمولو ته ورسوي، جمله داده'

'...ادبیات میں یہ اصطلاح جامد کے متضاد کے طور پر استعمال ہوتی ہے'-

ترجمه:په ادبیاتو کښې دااصطلاح د جامد د متضاد په توګه په کار راوستے شي).8(ب)

سیماب 'د پښتو ژبې تاریخي شالید '9 د علامه عبدالشکور رشاد د تالیف 'لودي پښتانه 'په حواله د 'اعلیٰ حضرت احمد شاه بابا -1733-1773م) د مذکور عبارت په ضد د کال اوولس سوه اووه څلویښت نه تر اوولس سوه درې اتیا (1747-1783) ذکر کوي حالانکې د احمد شاه دراني د وفات تاریخ زیات یقیني تر څلورم جون کال اوولس سوه دوه اویا (1772ع) دے. اوورپسې بیا د تیمورشاه دراني تر کال اوولس سوه درې نوي (1793ع) پورې دے 10.نو په داسې حال کښې د کال نولس سوه درې اتیا (1783ع) ذکر شکونه زېږوي. بهر حال دې ضمن کښې دوي د پښتو ادب د تاریخي پس منظر ذکر کښې د عبدالحي حبیبي، ډاکټر فروغ ابري (ایراني لیکوال)، عبدالجلیل وجدي، میا سهیل انشا، داور خان داؤد، عبدالولي خان، صدیق الله ریښتین، ډاکټر راج ولي شاه خټک، زلمي هېواد مل او عبدالکریم بریالي حوالې راؤړلو نه پس دغه 'شالید 'د روښاني تحریک سره تړي.دغه بحث څه نوې خبره نه رابرڅېره کوي، بلکې په موضوع شوے کار ترتیب کوي او یو ادبي دور بل سره منسلك کوي.

'شالید' شاید دوي پس منظر ته وائي چې د هم دغه توري لفظي ترجمه ښکاري.ادب د حرکت، تسلسل او روانئ نوم دے، او پکار ده چې په دغه قرینه د نوي اصطلاحاتو د جوړېدو عمل تل روان وي. خو ایا 'شالید' دغه اصطلاح په ټول پښتو ادب کښې قبولیت لري؟زما د ناقص خیال مطابق خو به د 'پس منظر' مروّجه اصطلاح د 'شالید' په ځاے زیاته ښه معنی ورکوي. او بیا په داسې حال کښې چې زمونږ ماخذات هم داردو ادب وي نو زیاته مناسبه داده چې زیات عمومیت لرونکي اصطلاحات پکار راوستي شي. د پښتو ادب معلوم او مستند تاریخي پس منظر د نورو مشرقي ژبیو او ادب په مقابله کښې نسبتا لنډ او مختصر دے ځکه دوي هم ورته په اجمالي اشارو کولو اکتفا کړې ده. ډاکټر سیماب د 'پټه خزانه' مثالونه او نظائر هم نقل کوي.ددې خاورې د تاریخ ذکر کښې دوي د 'بودائي او زرتشت د مذهبونو' نه پس د اسلام په راتګ دا بحث ډاکټر راج ولي شاه خټك سره د وړومبي تحریك په متعین کولو او نقوشو کښې په اختلاف څرګندولو سرته رسوي.او د اسلام ابتدائي دور کښې د کسبي او وهبي علمونو د تحصیل د تسلسل په بنیاد د بایزید انصاري د افکارو په شکل کښې مخې ته راولي.چې ورسره اتفاق او اختلاف دواړه کېدے شي ځکه د بایزید نه وړاندې هم مونږ سره د کسبي او وهبي علومو وجود شته.

دغه پورته لنډ پس منظر په ادبي توګه دوي دپښتو ادب،روحانیاتو او'مزاحمت' وړومبي تحریك 'روښاني تحریك '11دپاره بنیاد ګرځوي.موصوف لکه د خپلو نورو متقدمینو دغه تحریك محض یو مذهبي تحریك ګڼي اوکوموحققینو یعني ښاغلیو صدیق الله ریښتین ، زلمي هېواد مل، عبدالکریم بریالي، صاحب ګل مموزي ،ډاکټر میر ولي مسعود اوډاکټر نصرالله وزیر چې دغه یو سیاسي تحریك ګڼلے دے، دوي ورسره د عبارتونو نقل کؤلو نه پس خپل اختلاف څرګندوي.په فکري او مابعدالطبیعاتي توګه ورسره د ډاکټر راج ولي شاه خټك،صدیق روهي، د بحثونو نه د استشهاد کولو نه وروستوموضوع سره د مغربي او مشرقي فلسفې یو اوږد او غېرمتعلق بحث دوي د بایزید انصاري د افکارو سره تړي .خووړاندې د حالنامې عبارتونو نقل کولو کښې د اصلي فارسي نسخې عبارتونه په نظر نه راځي.د صدیق روهي نظریه چې 'پیر روښان د خپل ارمان سرکولو له پاره د تصوف څخه دیوې کاري وسلې په حېث کار اخستل'، اود پروفېسر اسلانوف ئې 'بزګري نهضت بلل'،دواړه مفروضې دغه تحریك یو طرف ته تصوف د یوې وسلې په شکل کښې متحرك ګڼي او مؤخَرالذِکر ئې د یوخالص سیاسي اوسماجي تحریك په شکل کښې وړاندې کوي .
خو عجیبه داده چې د روښاني تحریك نظریاتي او اعتقادي مخالف اخون درویزه او د هغوي یا هغوي ته منسوب تصنیفات دې بحث او دور کښې بېخي نظرانداز دي . حالانکې ددې تحریك سره دوي یوداسې فکري اونظریاتي تړون دے چې شلؤن ئې نه کېږي .د بایزید او د هغه د ډلې ئې فکري،علمي او عملي مخالفتونه کړي دي، پښتو ادب ته ئې په نظم ،نثر او ترجمه کښې د ورکړو کولو په بنیاد د ضمناً او اجمالاً ذکر حق خو لرلو. ډاکټر سیماب ابتدا کښې د ډاکټرراج ولي شاه خټك د 'تحریك'په لفظ او اصطلاح بحث کوي خو چې د بایزید انصاري منفرد متصوفانه فکر مونږ د دوي د وینا او تعریف مطابق رجحان وګڼو ،که تصور ، که تحریك؟،او که دغه ټول؟.
د ډاکټرسیماب په خیال د بایزید فکر د فلسفې آفاقي فکر دے، خو د 'فلسفې د عمومي مزاج تشکیك په ځاے د پخو اسلامي اصولو په یقین ولاړ دے،د دوي په ذاتي روحاني تجربه بنا دے'. دوي د روښاني فکر د نورو مشهورو او مستندو شاعرانو لکه ارزاني خیشکي، مرزاخان انصاري،دولت لواني،واصل روښاني او نورو له افکارو استشهاد کوي او اخر کښې په دې نتیجه رسي چې ' بایزید او د هغه مریدانو د جمود د ماتولو هڅه وکړه

او ادب ئې پکار را وستلو. دلته دا پوښتنه ذهن ته راځي چې د روښاني مکتبِ فکر نه وړاندې پښتو کښې کُلي جمود وه؟ ،البته د روښاني تحريك سره تړلو شاعرانو شعر او فکر له نوې رُخ ضرور ورکړې دې او د مېنځنۍ ايشيا د مشهورو صوفيانو له فکر ئې خاص استفاده کړې ده. د روښانيانو شاعرۍ کښې د خپل مکتب خاص فکر سره سره د تصوفي تغزل توکي هم زيات جوت په نظر راځي . په دې بحث کښې چې د موضوع په مناسبت د ډاکټر سيماب غوندې د رسا او پوخ فکرخښتن نه د ځومره فکري ژورتيا طمع پکار وه، دلته نه ښکاري .فلسفيانه او مابعدالطبيعاتي بحثونو کښې دوي د مشرق د قديمې او مغرب د جديدې فلسفې د فلسفيانو وِل ډېورنټ، کانټ، رسل، شوپنهائر، سپينوزا وغېره هم اوړېده تذکره کوي خو د روښاني مکتبِ فکر په دغه اړخ چې کوم نسبتاً نوي علمي بحثونه محقق محمد اکبر کرګر او نورو کړي دي، دلته ئې نمونه نه ښکاري. د مابعدالطبيعاتو يا فلسفې ضمن کښې د روښانيانو په شاعرۍ د شيخِ اکبر محي الدين ابن عربي ،ابن سينا ،فارابي شيخ شهاب الدين سهروردي او د نورو د افکارو ښکاره اثر برېښي .د ارزاني خويشکي ديوان خو د اندلس د مشهور فلسفي ابن ُطفېل د فکر نمونې هم لري. خو دلته دغه بحث د نظرانداز کېدو ترحده په اختصار او ايجاز بنادې او د تحريك متعلق خبرې تکراري دي، پکار داوه چې د داخلي او خارجي شهادتونو په بنياد نوي اړخونه او جِهتونه مخې ته راوړې شوي وې او پرې نور ژور علمي بحثونه شوي وې ،اګر که دا موجوده زيار ئې هم نورو بحثونو له دوام ورکوي.

سيماب صاحب د'زرين دور' 12خوشحال خان خټك 'د روښاني شاعرانو د شعر خواږه تر رحمان بابا او خوشحال بابا' را رسوي، د دې دور د احاطې کولو دوران کښې دوي د بې بدله محقق خدا ے بخښلي دوست محمد خان کامل مومند ، زلمي هېوادمل ،ډاکټر پروېز مهجور خويشکي، اجمل ښکلي، دوکتور عارف عثمان (عثمانوف) د مقالو او د خوشحال باباد' د ستار نامه' نه استناد کوي . دې ضمن کښې هم دوي حواله جاتي اکتفاء د ډاکټر راج ولي شاه خټك په 'پښتو ادبي تحريکونه' ښکاري . دابحث ئې علمي تنقيد او معتدله تجزيه هم لري .د خدا ے بخښلي ډاکټر راج ولي شاه خټك د يو اقتباس په بنياد چې خوشحا ل بابا پکښې له خپله اولاده ګيله کوي او بددَرد ورته وائي ،ډاکټر سيماب دا رائي قائموي چې:

'ددې اعتراف وروسته که بيا هم ډاکټر صاحب د خوشحال د کورنۍ شاعران د هغه د مکتب فکر ګڼي نو داخبره منطقي نه ښکاري .رجحان يا تحريك خو څه کوې په زاړه ادب کښې د خوشحال تصور هم د خوشحال سره سم ختم شو بيا مونږ ته تر جديد دور پورې داسې څه په نظر نه راځي چې هغه دې د خوشحال خان خټك د تصور څخه اثراخستې وي يا دې د خوشحال خان بيانيه وړاندې کړې وي . ښائي هغه وخت حالات داسې شول چې دې بيانيې پکښې وده نۀ شوه موندلې،د ايمل خان او درياخان د تحريك پس پښتانو کښې د يووالي قوت نه شو پاته، نه په ادب کښې دخوشحال رنګه د مبارزې او مزاحمت رنګ ليدل کيږي'.13

د ډاکټر سيماب دغه رائې شايد تر يو حده منطقي جواز و لري چې واقعي د خوشحال په وفات پښتانه د لا مرکزيت سره مخ شول او د يووالي او فکري ارتکاز سوچ خاؤرې خجل شو.خو ايا مونږ دخوشحال بابا کامل فکر او نادر سوچ د هغه د ذات پورې محدود وګڼو؟ ايا د خوشحال د شعري امتياز او اختصاص ابتدا او انتها هم په دوي شروع اوهم په دوي ختمه وګڼو؟داخبره ډېره سمه ده چې د خوشحال بابا غوندې بهترين اوجامع شعر تر اوسه پښتو کښې تخليق نه شو، بغېر د څه مبالغې د هغه غوندې کامل اوهمه جهت سړے پښتنو کښې څه چې ، چې په نورو قامونو کښې هم پېدا نه شو. خو ايا دا به د خوشحال خان خټك فکري تنقيص نه وي چې د هغه فکر ځان پسې هډو څوك پېدا نه کړه ؟خوشحال شعر کښې د حريت، مزاحمت، قامولۍ، مغلوالۍ ،عزم جزم،مقاميت اواستغنا درس ورکړے دے چې تر اوسه جاري دے .د مزاحمت د علامت په توګه مونږ سره هم دغه يو نوم مخې ته راځي .حالانکې له هغوي وړاندې د روښاني مکتب شاعرانو کښې بې له ارزاني خويشکي ، مونږ ته د چا فکر کښې دغه عناصر نه ښکاري . خوشحال نوې لارې خلقو ته په ګوته کړې چې تر اوسه هم د هغوي له فکر استفاده او استفاضه کيږي . داسې حال کښې دې رائې سره اتفاق نه شي کيدے چې ګڼي د خوشحال تصور هم د خوشحال سره سم ختم شو. هو،د مسلح تصادم متحرك پاتې نه شو، خو له دوي وړاندې د روښانيانو مسلح تصادم هم د دغسې انجام سره مخ شوے وه . پښتون مزاج د فکري اوعملي حرکت او مزاحمت دپاره کله شمعې بلې کړې اوکله مړې کړي، ده ځان له تل يو مغل ژوندے ساتلے دے .دغه علامت که د حقيقت په شکل کښې وي اوکه د مجاز په صورت کښې، خو دوي متحرك او مجسم ساتلے

دے .دا شاید ددوي په فطرت اوخاوره ختمه کښې اغېزلې شوې ده اوموجوده دور کښې په دې خاوره روانو شخړو او ددې په ضد روان مزاحمت ته د کوم فکري رجحان، تصور یا تحریك تسلسل ووایو؟.د تاریخ کوم شخصیات ځانته د نمونې اوجذبې اخستو په توګه مخې ته اودروو؟د خوشحال شعري علامتونه د نن د سیاست موضوعات دي.
ډاکټر سیماب صاحب د خپلو لیکنو دې برخه'رحمان بابا' کښې لیکي: 'کوم تصوفي افکارچې روښاني تحریك خواره کړي وو هغه په بل شکل کښې درحمان بابا شاعرۍ کښې ځان ښکاره کوي. خو رحمان بابا ددوي برعکس خپل قلبي واردات په شعرکښې راوړي او ډېر په اسانه ژبه د خپلو جذباتو اظهارپه ډېرشدت سره کوي'14
دوي د ښاغلیوسید تسنیم الحق کاکا خېل،حبیب الله رفیع او ډاکټرراج ولي شاه ختك له افکاروا و زیارونو حوالې راوړي او اخر په دې نتیجه رسي چې 'ښکلا د عشق باعث ګرځي او دا تصور په ادب کښې د یودوامداره رجحان په توګه بېخي زیات شو او پښتو ادب کښې دا مکتبِ فکر د رحمان په مکتب فکر و نومول شو'.
سمه ده چې ښکلا او عشق د یو بل د پاره لازم او ملزوم دي او په دې خبره کښې دوي سره د اختلاف ګنجائش ډېر کم دے چې ګني رحمان بابا ځانله یو ادبي مکتب نه لري . بې شکه چې د روښاني مکتب افکار په پښتو ادب اوپښتنوکښې وروستو خواره شول اوځکه پرې د مذهبي طبقې له اړخه په جائزه یا ناجائزه طریقه سخت ردعمل هم راغللو. خو دغه افکار بایزید هم د خپلو متقدمینو متصوفینو نه په محسوس او غېر محسوس انداز کښې اخستے وه.د مذهب د نوي تعبیر، تجدید اواحیاء تحریکونه او هڅې مخکښې هم روانې پاتې وې .البته په مذهبي توګه ددوي فکر د مروّج اعتدال یامذهبي روایت پسندۍ په ځاے شدت ته زیات مائل وه. خود رحمان بابا په شاعرۍ کښې ئې په بل شکل کښې موجود ګڼل په کلي توګه بایدصحیح نه وي.ځکه د روښاني شاعرانو په شعر کښې ډېرمخصوص متصوفانه ژور والے او خپل مسلك سره کلك تړون دے،د تصوف اته مقامات دي چې بایزید انصاري پکښې منفرد اومتفرد دے او د رحمان باباپه شاعرۍ کښې د روحِ عصرپه توګه د وحدة الوجود او وحدة الشهود دواړه خیالونه په نظر راځي. په شعر کښې ئې د یو خالص قراني پیغام نظام لرلو په وجه ځان د کوم مسلك سره تړلے نه بولي بلکې ځان دځینو'مرید' اود ځینو'پیر بولي. یعني د قائل کېدو او مائل کېدو دواړه خصوصیات لري .ددې برعکس

بایزید انصاري خو په 'نورو خپله اتباع واجب ګڼي'. چې د رحمان بابا په شاعرۍ کښې ئې هغسې ښکاره کېدل حقیقت سره سمے نه خوري.
پروفیسر ډاکټر محمد زبیر حسرت خپل اهم کتاب 'درحمان بابا فکري مکتب' کښې د شپږ ویشتو نه زیاتو شاعرانو د رحمان بابا د شعر سره تقابل او موازنه کوي .15 چې ورسره جزوي اختلاف کېدے شي .
ډاکټر حسرت د پروفېسرډاکټر یار محمد مغموم خټک د کتاب 'صوفیانه شاعري او د معاشرې اصلاح' یوه حواله رانقل کوي چې 'د رحمان بابا د شاعرۍ د مطالعې نه معلومېږي چې هغه د تصوف ژوره مطالعه لرله هغه که یو طرف ته صاحبِ حال صوفي وه نو بل اړخ ته ئې د تصوف تاریخي اوعلمي پس منظر هم په نظر کښې وه،هغه د روښاني مسلك هم ژوره مطالعه کړې ده او د وحدة الوجود د باریکاتو نه ښه وافق(واقف) وه،هغه خپله شاعري کښې دروښاني شاعرانو مثلاً ارزاني ،دولت او مرزا ذکر کړے دے نو دا ډېره ممکنه ده چې هغه د دغو شاعرانو اثر قبول کړے وي'16
خوددې برعکس مونږ ته بې د وحدة الوجود او وحدة الشهود ،او د روښاني شاعرانو د ذکر ،نه بل څه قوي دلیل په نظرنه راځي چې مونږ حتمي رائي ولرو چې رحمان بابا د روښانیانو اثر قبول کړے وه، هن دا چې مرزا خان انصاري او ارزاني ذکر کوي خو دغه ذکر خوشحال بابا هم کړے دے نو په دغه اساس آیا داوګڼو چې خوشحال بابا هم دروښانیانو اثر قبول کړے وه.؟دلته د ډاکټر حسرت د کړي اهم اود ستائنې وړ کار باره کښې هم د یو سوال مخې ته راځي چې ایا مونږ د رحمان بابا او د نورو معاصرینو او متاخرینوشاعرانو مماثل شعرونو ته د'رحمان بابا فکري مکتب' اووایو او که شعري مکتب؟.
ډاکټر سیماب د رحمان بابا د شعري اسلوب باره کښې په ځاے دا لیکي او خداے بخښلي ډاکټر پروېز مهجور خویشکي هم دغه خبره لیکلې ده،' چې د رحمان بابا ادبي مسلك ځان له خپل مکتب دے.' 17
د سبك او مکتب ترمېنځه جداوالے اوتفریق بحث کښې هم ښاغلے له عبدالحئ حبیبي، استاد محمد آصف صمیم ،ډاکټر راج ولي شاه خټك،همېش خلیل، ډاکټر لیاقت تابان،او ډاکټر سید محي الدین هاشمي اقوال د خپل بحث برخه جوړوي . د کبري شریف زادګان له بلاګ 'ادبیاتِ فارسي' نه چې د'درخصوصِ سبك خراساني'په باب دے، اقتباس راوړلونه

علاوه له ازاد دائره المعارف ويکيپيډيا نه د عراقی سبك د خصوصياتو په باب عبارتونه راوړي .خو دا خبره به هم دلته بې ځايه نه وي چې د استاد ملِك الشعراء محمد تقي بهار درې جلده'سبك شناسي يا تاريخ تطور نثرِ فارسي'په دې موضوع ډېر علمي او فني بحثونه لري. خو دوي له دغه بلاګ نه د ماخوذ عبارتونو د ترجمې په ځاے حاصل معنی ذکرکوي .د سبك اسلوب او مکتب د مماثلت بحث کښې دوي د سبك اصطلاحي معنې کوي،دوي 'سبك په فني بنياد او مکتب په فکري بنياد رغول شوي بولي'-18

د سبك ضمن کښې د اُردو د ژبې لوے محقق خداے بخښلي شمس الرحمان فاروقي لغوي تحقيق ډېر د ستائينې وړ دے،کوم چې هغوي د A Stranger in the City:Th Poetics of Sabk-i-Hindi(په ښار کښې نا اشنا :د سبك هندي شعريات) 19په نوم ليکلے دے .دوي د هندي سبك اجمالي تاريخ ،د سبکونو خصوصيات،د خُراساني،عِراقي، اصفهاني او هندي سبکونو د شاعرانو د کلامونو محاسن او خواص،او خپله علمي تجزيه وړاندې کوي . په خوا و شا علاقه کښې په دغه موضوع دومره مستند تحقيق بل په نظر نه راځي. کله کله د سبك او مکتب دغه پورته تعريف او تقسيم د يو بل په ضد هم وي . لکه د روښاني مکتب شاعرانو کښې مونږ ته خاص سبك هم ښکاري او ځانګړے تصوفي مکتب هم .د عراقي او اصفهاني سبکونو شاعرانو کلامونو کښې مونږ ته واقعي چې لساني او فني امتيازات هم ښکاري خو افکار ئې هم يو دي .خو دغه خيال چې د عبدالحميد بابا او کاظم خان شيدا په شاعرۍ منطبق کوو نو مونږ د نوو پوښتنو سره مخ کوي.

په موضوعاتي ،منطقي او فکري محاسنو مرتبط دے کتاب کښې ډاکټر سيماب د'سبك اومکتب' نه پس د'عبدالحميد مومند او سبكِ هندي 'بحث اجرا کوي .دې کښې دوي د علامه عبدالحي حبيبي، استاد صديق روهي،ډاکټرراج ولي شاه خټك،پروفيسرډاکټرزبېر حسرت، او اسد الله غضنفرله مقالو او کتابونونه استفاده کوي او د استاد زرين انځور په حواله د هغوي د کتاب 'د عبدالحميد مومند ياد' په حواله ليکي چې'کاظم خان شيدا د پښتو شعر د هندي ادبي مکتب د نامتو شخصيت په توګه دفارسي او اردو شعر له پياوړو استادانو څخه استفاده وکړه'.په تحقيقي مجله' خال 'کښې د خداے بخښلي ډاکټر پرويز مهجورخويشکي، د نورالحبيب نثار، سيد خير محمد عارف او زلمي هېواد مل د مقالوحوالې نقل کولو نه ورستو ليکي چې' د سبك هندي رجحان څېړنې دپاره ياد نقد په

تله د تللو د پاره د فارسي د سبك هندي تيوري ضروري ده ځکه چې هغه ئې بنياد دے' 20. چې مونږ سره ئې په دغه معيار تحقيق د نشت برابر دے.
که تحقيق د نوو خبرو د دريافت نوم وي نو دلته د تحقيق دغه تعريف نوره تقاضا کوي. هندي سبك، چې شاعران ئې د عبدالحميد بابا نه علاوه، کاظم خان شيدا، حنان بارکزے، کامګار خټك، پير محمد کاکړ، شمس الدين کاکړ، حسين، او تر يو حده اشرف خان هجري هم دے او په دې دور کښې د صديق پسرلي په شعر کښې هم دغه توکي په نظر راځي. خودغه موضوع ډېره لږه او ناکافي د بحث موضوع جوړه شوې ده او څنګه چې ډاکټر سيماب وائي چې د فارسي سبك هندي تيوري باندې پوهېدل ورله ضروري دي. نو چونکې له فارسي ژبې اشنائي کمه ده، هم په دې وجه په دې موضوع مونږ ته ډېر کم معياري مواد مخې ته راځي. د هندي سبك په موضوع د نورو کارونو نه علاوه د ډاکټر بنارس خان خټك د پي ايچ ډي تحقيقي مقاله 'د پښتو کلاسيکي غزل کښې د هندي سبك روايت او ارتقا' (جنوري ۲۰۱۷ع) او د کاظم خان شيدا په شاعري د نورالحبيب نثار علمي او تحقيقي زيار ډېر نوي معلومات لوستونکيو ته ورکوي. خو د استاد زرين انځور خبره د تامل وړ ده چې، 'شيدا ...د فارسي او اردو شعر له پياوړو استادانو څخه استفاده وکړه'، نو له فارسي شاعرانو په استفاده خو مونږ سره پاخه داخلي شهادتونه شته خو د اردو له شاعرانو 'استفاده' به دليل غواړي. د هندي سبك د اردو او فارسي ژبې په شاعرانو کښې مونږ سره مرزا اسدالله خان غالب دهلوي راځي چې خپل اردو ديوان کښې د ابوالمعاني مرزا عبدالقادر دهلوي باره کښې تقريباً شپږ شعرونه لري خو د شيدا باره کښې دغسې رائې قائمول به کره دليل غواړي چې ډاکټر سيماب په دې رڼا اچولې وے.
ډاکټر محمد زبير حسرت خپل جامع کتاب 'عبدالحميد بابا (ژوند او ادبي خدمات) 'کښې د حميد بابا د اسلوب متعلق ليکي'...اګر چې د هندي سبك له رويه ئې اسلوب خپل دے او د يو ځان له مکتب فکر ښښتن دے خو لکه چې په تېرو کرښو کښې مو ولوستل څومره ډېر شعرونه دي چې حميد بابا پکښې د رحمان بابا مضامين خپل کړي دي او معنوي لحاظ سره پکښې انتهائي يوشان والى محسوسيږي، که څه هم حميد بابا خپل مخصوص ليك شان کښې ليکلي دي'.21دا نوې خبره نور تحقيق غواړي. خو په دې هندي سبك کښې هم په يو مضمون رنګ رنګ طبع ازمائي شوې ده.

د هندي سبك نفسياتي دې غوره تجزيه کښې محقق د حميد بابا ، رحمان بابا ،علي خان بابا ،حنان باركزي شعري تقابل د ډاكټرمحمد زبېرحسرت د پورته ذكر كتاب په حواله او د هندي سبك د فارسي شاعرانو تقابل د خدا ے بخښلي ډاكټر پروېز مهجورخوېشكي په 'خال 'كښې د چاپ مقالې په بنياد كوي.
د اموضوع د پښتو او فارسي شعري روايت تړون پخولو نه علاوه ددغه دور د شاعرانو د شعري اولساني اخذاو اكتساب رجحان او مېلان او انجذاب هم مونږ ته په گوته كوي . چې اوس پښتوشعر كښې په نظر نه راځي.
' توره يا گونگه دوره' ډاكټرنصيب الله''د فرهنگي مركزونود ورانېدو وروستو د پښتو ديواني ادب بېخي په گونډو گڼي ''دوي ليكي' اگر كه دې دور كښې مذهبي ادب ترجمه شو خوانگرېزي امپراتورۍ پښتنو ته ډېر زيات تاوان ورسولو '،د محقق عبدالكريم بريالي د ليكنځې په حواله ليكي چې' داتلسمې او نولسمې پېړۍ د پښتو شاعرانواو ليكوالو په باب د ادب تاريخ خاموشه دي '22.
د دوي په خيال 'په دې دوره كښې اولسي ادب مخ په وړاندې ځي خو وړاندې ليكي چې' د انگرېز د هڅو باوجود د اولس په ذهنونو كښې د پښتون رياليزم زڼې را زرغون شوې وو '23.
حقيقت دا دے چې دې دور كښې هم د شعراو ادب تخليق روان وه خو شايد تر اوسه ئې پوره صورت كښې تحقيق نه دے شوے .اولسي ادب په هردور كښې خپل وجود برقرار ساتلے دے.او ډاكټر نصيب الله صاحب ئې دغه زرخېزۍ ته اشاره هم كړې ده . محقق فرهادمحمدغالب ترين وائي چې د پاكستان ټيلي وژن سنټر،پېښور، يو ادبي پروگرام 'پښتو ادب تردې دمه' سلسله'ادب اوجمود' چې كوربه ئې ډاكټريارمحمد مغموم وه ، كښې، چې دوي هم پكښې د قلندرمومند سره د مېلمه په توگه شريك وه ، خپلو خبرو كښې قلندر مومند دغه دور ته دغه نوم اخستلو سره اتفاق نه لرلو او وئېل ئې 'زمونږ عدم رسائي مونږ دغه موقف لرلو طرف ته مائله كوي'.غالب ترين صاحب وائي 'مياجناب كاكاخېل(1929ع-1844ع) د هم دغه دور د نظم او نثرښه اديب دے .خو نظر انداز دے . موصوف محقق، د شيخ الحديث عبدالحق محدث دهلوي د كتاب 'مدارج النبوة' پښتو ترجمه ،'دمياجناب كاكاخېل مرحوم پښتو ژباړې ته يو نظر' تر عنوانه ليكي:'د مياصاحب په تصنيفاتو ،تاليفاتو او ترجمو كښې يو پښتو ديوان دے چې د ديوان مياں جناب

کاکاخېل په نوم په نومبر کال ۱۹۷۰ع کښې د میاابوتراب کاکاخېل په زیار اداره اشاعت سرحد ،پېښور،خور کړے دے'. افسانه نګار او د اردو او پښتو شاعر میالطیف شاه شاهد دهم دغه کتاب په ابتدا کښې 'د رحماني مکتب اومسلك څښتن' کښې د دوي دا شعر نقل کوي:'د جناب دغه وروستے دیوان را واخله -که په کور کښې دې دیوان د رحمان نشته'.23(ب) نو شاید دوي د هم دغه سلسلې اخري شاعر دے او' توره یاګونګه دوره' کښې درنا بخرکي بلوي اوخپل فکر زمزمه کوي . له دې علاوه مرحوم پروفېسرافضل رضا خپل کتاب' پټ ستوري' کښې ددغه دورې د نورو څه کسانو ذکرهم کوي .فرهاد غالب ترین وائي:' دغه دور کښې احمددین طالب د چاربېتې ډېر ښه شاعردے ، اګر که خارجیت پرې ډېر غالب دے'24. انشاپرداز،شاعر، مترجم او شاعر ملا نعمت الله،(69 /1858ع-30 ستمبر1929ع ) هم دغه دورته زیات نزدې دے . چې ښاغلي زلمے هېواد مل ئې شپږویشت، مرحوم سید اکبرصابر ئې شپږو شلو نه زیات،او ډاکټر طارق آزاد ددوي د اوویشتوتصنیفاتو یوشان او بېل بېل فهرستونه لري25 . لړنور تحقیق به نورپټ شاعران هم راڅرګند کړي او دغه شان دې ادبي دورله به د بل نوم ورکولو مستند اسباب راپېدا شي او یا ئې د بل مخکښني تحریك تتمه،او یا د راتلونکي تحریك ابتدائیه وګڼو.

'نوې (جدیده ) دوره ', کښې دوي د ترجمو خبره کښې لیکي'پېرنګیانو د معلومو وجوهاتو له کبله خپل مذهبي کتابونه پښتو ته ترجمه کړه'26د ترجمود دې سلسلې ابتدا ډاکټر راج ولي شاه خټك د ابو محمدهاشم سرواني د ابن خلاد د شعرونو د ترجمې نه کوي.لیکي'د اخون درویزه ،مخزن الاسلام، پکښې د بوصیري د قصیدې د ترجمې، د خوشحال په مکتبِ فکر کښې وخت په وخت د دیني، علمي او فلسفیانه موضوعاتو د کتابونو ترجمو د کار اغاز وشو.د سکندرخان ، عبدالقادر خان خټك ،د ګوهرخان خټك، افضل خان خټك، دحمید بابا ، فیاض، اخون ګدا ، عبدالکریم کاکړ، ملانعمت الله،عبداللطیف خان اڅکزي،میا نعمان الدین کاکاخېل، میا محمد یوسف کاکاخېل.......'.27

ډاکټر سیماب او ډاکټر راج ولي شاه خټك دې ضمن کښې اتفاق لري چې 'ددې اغاز نه وړاندې د زمانې د انقلاباتو په سبب په پښتون ثقافت یوه داسې تیاره را خوره شوه چې ټول ثقافتي اقدار ئې تت کړي وو د مغلو او سیکانو د غلغلې نه پس د فېرنګیانو غلغله راغله او پښتون وګړے د غزااو لام نه وزګارشوے نه وه چې څه ثقافتي خدمت اوکړے شي

خو په دغه ستومانوونکي دور کښې يو وخت داسې راغے چې د فېرنګيانو هم د پښتو ژبې ته حاجت پرېوتو او ددې حاجت له مخې هغوي د پښتو ژبې دپاره دومره څه وکړل چې د پښتوادب په تاريخ کښې ئې يوځلاند مقام بيامونده...د يو اوږد تاريک دور نه پس چې د پښتوادب نشاة ثانيه اوشوه نو دا د فېرنګيانو د حکومت دور وه چې فېرنګيانو د پښتو ژبې د زده کولو د پاره روان ساده اوسليس نثر کتابونه اوليکل.'.28 اګر که د دغه کار په شا سياسي محرکات هم وه،خو پښتو ادب له ئې تحريک ورکړے وه.

د'خدائي خدمتګار تحريک' بحث کښې ډاکټر سيماب دولي خان،اجمل ختټک، فارغ بخاري،سعادت خان جلبل ، رشيد احمد ، انورسديد ،اکنات اسوران،او سميع الدين ارمان حوالې راوړلو نه پس د تحريک د ادبي ورکړو لنډجاج اخلي او ليکي چې 'خدائي خدمتګاري د ترقي پسندئ ،مارکسزم،او جديد سيکولرزم ددې ملي مفکورې بڼه ور بدله کړه ددې مفکورې اصلي شکل ئې په نورو اِزمونو پټ کړے چې رابرسېره کېدو ته اړتيا لري'.دا ډېره اهمه نکته ده او د نور تحقيق متقاضي ده .د تحريکونو د فکري ساخت بدلون يو عمرانياتي عمل دے او سره ددې چې د وخت غوښتنې بدلې دي خو واقعي چې د انجذاب يو عمل وجود موندلے دے .

دلته بايد داخبره ذهن کښې وساتو چې خدا ے بخښلي ډاکټر راج ولي شاه خټک 'دپښتو ادبي تحريکونه' کښې د'خدائي خدمتګارتحريک'ذکر نه وه کړے .د ناقدينو په دغه باب له اعتراضونه وو خو له پښتو اکېډيمۍ، پېښور، له لوري ددغه کتاب دوېم اشاعت کښې د ضميمې په توګه دغه برخه شامله ده . پروفېسر ډاکټر نصرالله جان وزير(ډائرېکټر پښتو اکېډيمي) د کتاب ابتدا کښې د 'استاد ادبي زيار'ترعنوانه ليکي،'ځانګړتيا بيا داوه چې هغې کښې هغه يوه ضميمه شامله کړې وه...دې ضميمه کښې هغه د ادبي تحريکونو لړۍ کښې د خدائي خدمتګار برخه شامله کړې ده خدائي خدمتګارتحريک د يو ادبي تحريک په توګه منلو په حقله د استاد دريځ لږ بدل وو . بل هغه د خپلې ناجوړتيا له کبله وخت نه درلود چې د دې تحريک په حواله پراخه ليکنه وکړي او د يوې ضميمې په توګه ئې کتاب کښې شامله کړي خو زما د ټينګار او اصرار نه پس هغه دې ته تيارشو چې ددې تحريک په حقله يو څه اوليکي.'29.د دوېم ايډيشن په پينځه سوه څلورشپېته( 564) مخ ډاکټر راج ولي شاه خټک خپل دريځ نور تفصيل سره وړاندے کوي30.

له دې ورانديو ورومبي اشاعت کښې چې په 'اشاريه' پينځه سوه دېرشم( 530 )سرته رسي، د خدائي خدمتګار تحريك ذكر نه لري31،نوي ايډيشن کښې دوي ضميمه شاملوي چې د مخ پينځه سوه دوه شپېتم نه تر پينځه سوه اووه اويايم( 562 نه577) پورې خوره ده . اروابناد ډاکټر راج ولي شاه خټك په ديو تورو دغه ضميمه سرته رسوي'..نو دراتلونکي ادبي ورثې بيا داهم پته نه لګي چې کوم انداز به خپلوي خو د بايزيد مبهم او د خوشحال خان خټك ښکاره د قامپرستۍ مضمون او د باچا خان تر قام پرستۍ چې کوم روح ژوندے ساتلے دے نو داد پښتانه لکه د زيست سرمايه به په هردور کښې ادب ته د هاغه زاړه مرام نخښې ورښائي'32.

د ډاکټر سيماب او د اروابناد ډاکټر راج ولي شاه خټك موقفونه په دې حواله يو بل مختلف دي . خو مقدم الذِکر ورته د يوې مفکورې او مؤخَرالذِکر ورته د'زاړه مرام نخښې او د زيست سرمايه' وائي . دوي ئې د'بايزيد او خوشحال تحريکونو' سره تړي.او ډاکټر سيماب ئې د مارکسزم او جديد سيکولرازم په ضد د'اصلي روح د ليدو ارماني' ښکاري.حال او مستقبل به د دوي د دغه خوش بينيو تعبير راڅرګند کړي .دا دواړه فکرونه يو نوي بحث له دوام ورکولے شي چې د دغه تحريکونو جديد تعبير څنګه وشي، پښتو ادب ته ئې کوم رجحانات وربخښلي دي او په راتلونکي وختونو کښې به په کوم صورت کښې ظهور ولري .

د خدائي خدمتګار تحريك د ادبي کېدو متعلق محقق قلندر مومند هم د'سينا' مجلې د يوې پوښتنې په ځواب کښې چې خدائي خدمتګار تحريك زمونږ په ادب څه اثر غورزولے دے، که نه ؟ وائي:

'داخو يو سياسي تحريك وۀ،ادبي تحريك نه وۀ،دې تحريك د'پښتون' په نوم يوه مجله شروع کړې وه اودارنګې په پښتو جرنلزم باندې ئې ډېر اثر کړے دے'32(ب) حالانکې د صحافت نه علاوه ئې قريباً د ادب په هر صنف يو اثر پرېباسلے دے .

د 'افغانستان'په دې لنډه مباحثه کښې محقق د'ويښ زلميان' او ادب ته د ورکړو ذکرکوي خو چې کوم څه ته زما يا د لوستونکيو سترګې وې هغې ته اشاره قدرهم نشته.چې دافغانستان غميزه څنګه په پښتو ادب کښې ځاے يا نظم کړې شوه .دوي د افغانستان د غميزې اوسانحې متعلق د شاعرانود منقولو شعرونو هغه جائزه نه اخلي چې زمونږ په ادب

ئې کوم اثرات پرېباسل او زمونږ شعر او نثر او سوچ ته ئې کوم رجحانات وروبخښل.؟ د نن د نقاد او ادبي مورخ دپاره دا اړخ د تحقیق موضوع جوړول د وخت تر ټولو لوے ضرورت دے .چې د نقاد بیانیه دې په نقلي، کتابي یا تخمیني معلوماتو بنا نه وي بلکې زمیني حقیقتونه دې پکښې جخت ښکاري.

د'سهیلي پښتونخوا' ترعنوانه لیکنه کښې د دوي په خیال 'دانګرېز تر راتګ د مخه په کندهار پورې تړلې دې سیمه علمي او ادبي مرکز کندهار لرلو، په دې موضوع د عبدالکریم بریالي، اقبال اقبال، ایاز داودزي، اغا محمد ناصر، ملا نېك محمد خانوزئ، حافظ خان محمد ،غوټۍ خاورې، ملا ظریف اخوند کاکړ، فضل الرحیم بازي او نورو حوالې نقل کوي اوورته دغه ټولوهلو ځلو کښې د'پښتود خدمت تحریك' په نظرراځي.دې لیکنه کښې دوي ته د عبدالصمد خان په تحریك کښې'تش اوتش وطنیت، او پښتون قام دپاره په پښتونولۍ ولاړه، او اسلام سره کلك تړون'ښکاري . خو 'وروستو ورته د مارکسزم او ملائیت نخښې ښکاري، چې ملي مفکوره ئې ترخاؤرولاندې کېږي'.33ددغه ازمونو سره دوي د سرمایه دارانه نظام ذکر هغه شدت سره نه کوي کوم چې له ډېرو لسیزو په سوچ او فکر حاوي دے .د پورته مذکورو نظریو غېرمعتدل نفاذ او نفوذ چې کوم غېر متوازن فکر پېدا کړے دے د هغې شدت او حدت به هردورکښې بیا بیا محسوسېږي .

دغه علاقه کښې په تحقیق، تنقید، تاریخ، صحافت، غزل، ترجمه او نورو صنفونو کښې ډېرکارشوے دے ډېرو لویو شخصیاتو خپل ژوندونه دادب دودې دپاره وقف کړي وه پکارده چې خوډېر اهم نومونه پکښې اجمالي ذکرهم نه لري.

د'ترقي پسند تحریك'ترعنوانه دوي لیکي چې 'د روس اشتراکي انقلاب اثرات په دې علاقه هم خواره شول دوي ته په دغه دور کښې په ادب حاوي موضوعات حقیقت نګاري، او رومانیت ښکاري او ددوي په خیال' ددې په ځنګ کښې یو بل تحریك چې په رومانوي انداز راپورته کېږي او په ادب کښې له دې ټولو تصوراتو ځخه بغاوت کوي' د ډاکټر انورسدید په حواله ددغه تحریك لنډه خو جامعه تذکره کوي . په افغانستان ، پښتونخوا او بلوچستان کښې ئې هلې ځلې ذکر کوي د فکري بنیاد په توګه د اولسي ادبي جرګې بحث سره سره د مترقي لیکوال او خداے بخښلي ادیب او نقادسلیم راز ذکر هم کوي.34

دوي ته د ترقي پسند تحريك زيات 'اثرات په لوستي طبقه ښكاري،د علمي او فكري بدلون په ځای ئې د فېشن بڼه قبوله کړه،دې تحريك ته د فېشن بڼه وركولو وروسته دا فېشن په پښتو ادب هم هغه رويه رامنځ ته کړه کومه رويه چې برصغير كښې په اردو ادب كښې رامنځ ته شوې وه يعني د تشدد رويه'. پښتو ادب كښې ترقي پسندي تر يو خاص دور پورې داسې نه وه څنګه چې بيا وروستو شوه او محقق ورته د'تشدد رويه 'وائي.35دې بحث كښې دوي د'مترقي ليكوال 'ذكر هم كوي او پوښتنه كوي چې دغه تنظيم د اولني تنظيم په موجودګۍ كښې ولې جوړ شو.

د'روماني رجحانات ' 36فني بحث كښې دوي د انور سديد ، فضل حق شيدا ، اجمل خټك، حنيف خليل ، سميع الدين ارمان عبارتونه او د سيد رسول رسا او اشرف مفتون شاعري نقل كوي .دوي د غني خان د حسن د تصور لنډ بحث نه وروستو د روماني رجحاناتو په حواله د فلسفي ايمانويل كانټ او د روسي ناول نګاردوستوفسكي افكار هم د لوستونكيو مخې ته ږدي،د مفتون مشهور نظم 'زهرا ته' دخپل بحث موضوع جوړوي خو د روماني افكارو او شاعرۍ په حقله د روماني شاعرۍ د سرخېلانو عبدالرحيم مجذوب او مېجر يونس خليل ذكر بېخي نه كوي . شايد ددوي له نظره تېر نه وي ، مجذوب د مشرق او مغرب د روماني رجحاناتو ډېره ښه عكاسي كړې ده د انګريزي شعري ادب نه د ترجمو په ذريعه هم او د طبع زاد تخليقاتو په ذريعه هم .

'د شلمې پېړۍ اخري نيمائي'37ترعنوانه ليكنه كښې محقق په نظام كښې موجودې خرابۍ ته اشاره كولونه وروستو د اجمل خټك په نظمونو بحث كوي.او د مغربي مفكرينو د افكارو انطباق ددې دور په شاعرانو كولو نه پس د افغانستان د ابتدائي شخړې په حواله د ماركسزم او اسلام د تصادم قصه بيانوي، اودې ضمن كښې د عبدالباري جهاني د غم ډكې،د درويش دراني د جنګ په ضد د امن د ساندې، او د پير محمد كاروان د خوږې شاعرۍ نه خپل بيان له رنګونه كشيد كوي او بيا د دوي په شاعرۍ د محمد اكبر كركر، بريالي باجوړي او د رازمحمدراز په وېنا خپل دا بحث سر ته رسوي چې :

'د شلمې صدۍ په وروستيو لسيزو كښې پښتني خاورې بيا د سوشلزم صورت وپېژندے د ثور انقلاب راغلې پر شا وتمبول شو .اوس بيا د جمهوريت اشرافيت او بورژوائي يو

امتزاج وينو...خو په څنګ څنګ کښې ئې د عمليت پسندۍ Pragmatisms تجربت(؟) علاوه تيت اثار هم پښتو ادبياتو کښې چېرې چېرې جوت وينو'.
د'يويشتمه پېړۍ'38ليکنې ابتدا دوي د نائن اليون د ذکر نه کوي د خپل موقف د تائيد دپاره شاعرۍ کښې د عبدالباري جهاني، رازمحمد راز، درويش دراني، عارف تبسم، عبدالغفور لېوال، پير محمد کاروان، فېصل فاران، رياض تسنيم، محمود اياز، شاهنواز باقر اونعيم ازاد د شعر نمونې راوړي، او په تنقيد کښې د سميع الدين ارمان د کتاب 'تنقيق' نه حواله رااخلي. حالانکې د مذکورو شاعرانو نه علاوه نور هم د ذکر وړ دي خو شايد دوي د طوالت له وجهې هم په دغه نومونو ذکر کولو اکتفا کړې وي.
دوي فېصله کن انداز کښې ليکي چې 'پښتون اديب لا تر اوسه د جديدو ادبي رجحاناتو نه ناخبره دے او تر اوسه د اوولسمې اتلسمې پېړۍ په افکارو ئې شخوند مات کړے دے دوي د يو داسې قيادت د وخت ضرورت ګڼې چې قامي شعور او خود اګاهۍ سره سره د جهان بينۍ او جهاني ستر ګېم اګاهي هم ولري'. دا فکري او موضوعاتي تکرار زمونږ د دور الميه ده متعلقه ادارې او شخصيات پکښې راګير دي خو سره ددې اعتراف او ادراک خو د احتسابۍ ته څوک هم تيار نه ښکاري.
د خپل دغه بحث حاصل دوي په دېو ټکيو کوي. 'تقليدي نظرياتو پښتو ادب ته ابهام څخه پرته بل هېڅ نه دي ورکړي د پښتنو د ټولنيز، اقتصادي او تهذيبي فکر د يوځاے کولو پرځاے د انتشار و خوا ته ورټېل کړے دے. د قامي شعور او بيانيې په ورکولو کښې زښت زيات ناکامه ښکاري. که زۀ داوو ايم بې ځايه به نه وي چې د يو قامي شعور ورکولو پرځاے ئې د انتشار باعث ګرځېدلے دے'.
اګر چې د يو نقاد په توګه دوي له د 'تقليدي نظرياتو' تشريح پکار د او له دغه نظرياتو نه د خلاصي دپاره به د جديد تروعمراني او سماجي نظرياتو تعېن څنګه کوو؟ خود نورو بحثونو په عکس ددې کتاب دا اخري ليکنه چونکې ددې خاورې په زميني حقيقتونو مشتمله ده نو د زياتې ستائنې جوګه ده. ليکونکے لکه د يو حاذق او نبض شناس طبيب د وخت د مريض په نبض لاس ږدي او بې رحمۍ سره د مرض تشخيص، نخښې نخښانې، اسباب او علاج ښائي . په دغه موضوع ددوي سوچ حقيقت او د حقيقت ادراک ته زيات نږدې ښکاري.د ډاکټر سيماب غوندې کهنه مشقو ناقدينو نه هم دا طمع کېدے شي چې د تخيلاتي حصار نه را بهر

شي اود ځېښنل شوي قام په وړاندې د عمليت پسندۍ ډيوې بلې کړي .د نن اجتماعي الميه داهم ده چې د نن اديب،شاعراو نقاد حسبِ معمول ځان په يوه خيالي دنيا کښې بندي ساتلې دے .خطا او وارخطاقام ئې د وخت د جبرناترسه ګوزارونو ته پرېښے دے او ډاډ ورکولو او لارښودنې ذمه ئې د نورو غېر متعلقه خلقو په اوږو بار کړې ده.

په مجموعي توګه دا کتاب پښتو ادب کښې د نوي تصوراتو، رجحاناتو، تصوراتو او موضوعاتو په لوري د مېلان او پرې سر دوباره د سنجيده ليکلو ډېرعلمي کوشش دے . دا فني، علمي او تاريخي موضوعات د محنت، فکري ژورتيااو ذهني رسايئ تقاضا کوي او د پروفېسر ډاکټر نصيب الله سيماب دغه هڅې په دې کتاب کښې مجسمې په نظر راځي او زه به د خپلې علمي بې بضاعتۍ په بنياد دادعوىٰ هم وکړم چې د موضوع په لحاظ شايد له دغه علاقې داوړومبے کتاب دے چې په دومره متنوعو موضوعاتو ليکنې د لوستونکيو مخې ته راوړي .

## References:

1:(Alif),Doctor,Professor,Seemab,Naseebullah,Tasawwarat-Rojhanat aw Academy, Balochistan,Quetta,Kaal,March,2021

1-(bey),Tasawwarat,Rujhanat aw Tahreekoona,Makh 6.,Siddiqi,Abul Aijaz, Hafeez, Kashaf Tanqeedi Estelahaat,Printing Corporation of Pakistan,Director General Edara Ferogh Qawmi Zaban,Qawmi Tareekh wa Adabi wersa Division, Wazarat Etla'at wa Nashryat, Hokumat Pakistan,Ewaan-e-Urdu,Patras Bokhari,Road 8/4 Islamabad, P29, Ed,2nd,2018.

2-Tasawwarat,Rujhanat aw Tahreekoona,Makh 18

3-Ibid,Hum Dagha Kitab,Makh 20

4- Blackburn,Simon,Oxford Dictionary of Philosophy,Published in the United States of America by Oxford University Press Inc,New York, Second Edition, revised 2008

5-Taswwarat,Rujhanat aw Tahreekoona,Makh,21

6.Hum Dagha Kitab,Makh 22

7- Oxford Dictionary of Literary Terms,Fourth Edition,Published in the United States of America by Oxford University Press,198 Madison Avenue,New York, NY10016,United States of America.2015, Page 358

8.(alif)Hum dagha Lughat,Makh 359

8(bey),Siddiqi,Abul Aijaz,Hafeez,Kashaf Tanqeedi Estelahaat,Printing Corporation of Pakistan,Director General Edara Ferogh Qawmi Zaban , Qawmi Tareekh wa Adabi wersa Division,Wazarat Etla'at wa Nashryat, Hokumat Pakistan,Ewaan-e-Urdu,Patras Bokhari,Road 8/4 Islamabad,P100,Ed,2nd,2018

9-Taswwarat,Rujhanat aw Tahreekoona,Makh 43-44

10- Ahmed Shah Abdali,
https://en.wikipedia.org/wiki/Ahmad_Shah_Durrani

11- Tasawwarat,Rujhanat aw Tahreekoona,Makh 70

12-Hum Dagha Kitab ,Makh 127

13-Ibid,Makh 160.

14-Ibid,Makh 161

15-Doctor,Professor,Hasrat,Muhammad Zubair,Da Rahman Baba Fekree Maktab,Doctor Fazal Raheem Marwat,Vice Chancellor Bacha Khan Pohantoon,Charsadda,Kitabtoon Khparandoya Tolanna,Pukhtunkhwa,August 2013.

16-Dagha Kitab,Makh 74

17-Da Khudai Bakhalli Professor Doctor Parwaiz Mahjoor Kheshgi sara zama Makalama,14th April,2019.

18-Tasawwarat Rujhanat aw Tahreekoona,Makh 173
19- A Stranger in the City:Th Poetics of Sabk-i-Hindi by Shamsur Rahman Faruqi, 29 C, Hastings Road, Allahabad 211 001, India
20-Tasawwarat ,Rujhanat aw Tahreekoona,Makhuna 190-214
21-Doctor,Professor,Hasrat,Muhammad Zubair,Abdul Ham Baba,jhwand aw Adabi Khidmaat,Pokhto ademy,Balochistan,2018.Makh 26
22-Tasawwarat,Rujhanat aw Tahreekoona,Makh 220
23-(alifh) Hum Dagha Kitab ,Makh 232،
23(bey)Kaka Khel,Mia,Janab,(Pokhto Motarrajam) , Dehlawi, Mohaddis , Shaikhul Hadis,Abdul Haq,Madarijun Nabuwwa,Markazi Pokhto Adabi Jarga,Nowkhar,Araf Printers,Mohallah Jangi,Pekhawar,Janwari 2018.
24- My discussion with Farhad Muhammad Ghalib Tarin,July,22,2021.
25-Mullah Nematullah Jhwand aw fann,zama leekanna,Wrazpanha Wahdat,3 January,2021
26-Tasawwrat,Rujhanat, awTahreekoona,Makh 233
27-Professor,Doctor,Khattak,Raj Wali Shah,Da Pokhto Adabi Tahreekoona, Director,Pokhto Academy,Pekhawar University,Fast Treck Communication Pekhawar,2018,Makhoona,489 ta 506.
28- Hum Dagha Kitab,Makh 507,508
29-Hum Dagha Kitab,Dwayam Edition,Makh 8,
30-Hum Dagha Kitab ,Makh 564
31-Professor,Doctor,Khattak,Raj wali Shah,Da Pokhto Adabi Tahreekoona , Director Pokhto Academy,Jadoon Printing Press,Pekhawar,1989.
32(Alif)-Da Porta zaikar kitab dwayam Edition,Makh 577
32-(Bey).Scena Mojalla,31 Ganha,2002,2003,Peshawar.
33- Tasawwarat,Rujhanat aw Tahreekoona,Pa Pokhto Adab ke,Makh 307
34-Hum Dagha Kitab Makh 324
35-Ibid ,Makh 322
36-Hum Dagha Kitab,Makh 329
37-Hum Dagha Kitab, Makh 351
38-Hum Dagha Kitab,Makh 374